آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۸/۰۵

# وخـتـه پـر تـنـدي دې راتـه داغ ايـښـی

ځـوک به يې خبـر کـا چي سوځـيږمه
ځــوک بــه ورتــه وايي چي کړيږمه

وخـتـه پـر تـنـدي دې راتـه داغ ايښـی
زه يــم چي زغـمـم يــې او تــيـريــږومه

نيک نوم دې وي ستا خوشاله اوسه پې
تــور دې راولــيـږه خــوشـالــيـــږمه

يـــو د دغـه وخت داغونه اور دي اور
بـل مينه انـگـار زه پــري سوځــيـږمه

وي کــه اجــازت کــه بـنـديزونه وي
زه پـــه پــښـتـني غـــرور غـــريـږمه

شـمـــعي د رنـــا پــه تـمــه سر وخوږ
ستـــا مــينه کي خـــوش يــمه بليږمه

سر وخورم که هر څه، هر څه وکړمه
د ښـکــلو درگـــاه کــي نـه قبـلـيږمه

۱۳۶۴/۰۶/۰۳
کابل
افغانستان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ